# د ورمونټ سیلابي سرچینې، مرسته او مراجعې

د سرچینو دا لارښود د دې دپاره جوړ کړل شوی دی چې د ورمونټ د خلکو سره مرسته وکړي ترڅو د مهمو کارونو او په یو لومړني تمځای کې د ترلاسه سرچینو پلټنه وکړي، په داسې حال کې چې زیاتو تفصیلي مالوماتو ته اړیکې ولري که تاسو ورته اړتیا لرئ.

**د بیړني حالتونو دپاره**: 9-1-1 ډایل کړئ
**د مرستې نورې سملاسي سرچینې**:

- **ټولیزې سملاسي اړتیاوې**: 2-1-1 ته زنګ ووهئ
- **بیړني پناځای**: 2-1-1 ته زنګ ووهئ یا تاسو کولی شئ www.redcross.org/local/me-nh-vt/get-help.html وګورئ او د زیپ کوډ څخه پناځای ومومئ یا SHELTER ته متني پیغام ولیږئ (د بېلګې په توګه: "01234 SHELTER") او FEMA4 ته خپل زیپ کوډ ولیږئ (43362): د هسپانوي متن دپاره REFUGIO او خپل زیپ کوډ ولیکئ. د متني پیغام معیاري قیمتونه اخیستل کیږي. همدارنګه تاسو کولی شئ د پرانستلو پناځایونو موندلو لپاره FEMA Mobile App ډاونلوډ کړئ.
- **د استوګنې د مرستې ټولیز پروګرام [General Assistance Housing Program] (مېلمستون یا موټېل) د ناورین د اړتیا دپاره**: 1-800-775-0506 ته زنګ ووهئ
- **د رواني روغتیا مرستې** 9-8-8 ته زنګ ووهئ
- **د معیوبو دپاره ملاتړ**: disabilities, or access and functional needs وګورئ
- **د بزګرانو دپاره ملاتړ**: د تخنیکي، قانوني یا مالي مرستې سره یا کوم سلاکار یا روزل شوي کارپوه سره اړیکه ونیسئ؛ کور | FarmFirst
- **د FEMA د ځانګړې مرستې د ملاتړ اړیکه**: سام هاروې، 202-765-9101 یا Samuel.Harvey@fema.dhs.gov

## لومړۍ کړنې

**که تاسو چیرې سیلاب اغېزمن کړي یاست نو په ټولیزه توګه به تاسو څه کول:**

د کارونو په یو چټک نوملړ کې شامل دي: ځان خبر ساتئ او تازه مالومات ترلاسه کوئ؛ ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو کور خوندي دی؛ د تصویرونو، نوملړونو، او رسیدو په کېدون د ټول زیان ثبت کړئ؛ خپل د بیمې شرکت سره اړیکه ونیسئ که چیرې تاسو بیمه یئ؛ د زیان خبرتیا ورکړئ؛ اوبه او ملبه په خوندي توګه لیرې کړئ؛ او صفایي وکړئ. نور جزئیات لاندې دي:

### تازه مالومات ترلاسه کوئ او د خطرونو خبرتیا ورکوئ

- **د VTAlert دپاره نوم ولیکئ** پیغامونو ترڅو د بیړني حالت خبرتیاوې، د سړکونو مهم مالومات، او د موسم مهمې خبرتیاوې تاسو ته نیغ په نیغه درکړل شي. پروګرام ته ننوتلو دپاره https://vem.vermont.gov/vtalert ته لاړ شئ.
- **د سړک بندېدلو مالومات**:وګورئ www.newengland511.org
- **څه وویني، څه ووایئ**: که چیرې تاسو کوم رامنځته کېدونکي خطرونه وویني لکه مځکې ښویېدنې، یا د خطرناکو او ړنګېدلي سړکونو نوې یا نامالومه برخې وویني، نو مهرباني وکړئ 911 ته خبرتیا ورکړئ.

### د زیان خبرتیا ورکړئ

دا اړیکه وکاروئ یا 211 ته زنګ ووهئ او د زیانمن شویو کورونو او کاروبارونو خبرتیا 211 Vermont ته ورکړئ. دا کار د ایالت په کچه د زیان مالوملو او FEMA ته خبرتیا ورکولو دپاره مهم دی ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې د ورمونټ اوسېدونکي په بیاابادونه کې فدرالي مالي زېرمو ته لاسرسی ولري. تاسو کولی شئ آنلاین (چې ډېرې وختونه ترټولو چټکه لاره وي)، د ټلیفون له لارې، او په ځینو ځایونو کې د پېښې ځای ته نژدې اوسېدو له لارې چې د ادارو د سرچینې موقعیتونه [Multi-Agency Resource Sites] بلل کېږي، ډېر راپوروونه جوړ کړئ.

[Multi-Agency Resource Sites] د ادارو د سرچینې موقعیتونه، د ایالتي ادارو FEMA، او مرسته وړاندې کوونکو بې ګټې سازمانونو څخه استازي لري. دا ځایونه هر څو ورځې وروستو بېلابېلو ټولنو ته ځي. په دې اړه د جزئیاتو دپاره چې کېدی شي کله هم دا تاسو ته نژدې کېدی شي ځایي خبرونو، د ټولنیزو رسنیو پوستونو، او ځاې مالوماتو ته پام کوئ.

### صفایي کول

دا ډاډ ترلاسه کول چې تاسو د صفایي په ترټولو مهمه برخه کې خوندي یئ. که چیرې ستاسو اوبه، سون مواد، تېل، یا نور خطرناک توکي ککړ شوي وي، نو مهرباني وکړئ د دوام ورکولو څخه دمخه 1-800-641-5005 یا 802-828-1138 ته زنګ ووهئ.

په صفایي کې مرسته کول – رضاکاران او رضاکاراني اداري شتون لري کوم چې په ګرد ورمونټ کې خپاره شوي وي او د مرستې کولو دپاره په دوامداره توګه راځي. د صفایي پروسه کولی شي څه وخت ونیسي.

- *دا ډاډ ترلاسه کړئ چې وداني خوندي ده.* که تاسو په ارزونه، د ساختماني خونديتوب، ګاز/پروپین/سون موادو تېلو ستونزي، یا بریښنا په ګډون د خونديتوب په ارزونه کې مرستي ته اړتیا لرئ نو خپل ځايي د اوروژني ځانګې ته زنګ ووهئ.
- *زیان ثبت کړئ* – ډېری تصویرونه واخلئ او د شتمنیو او وداني په ګډون د هغه شیانو نوملړونه وساتئ چې زیانمن شوي یا ویجاړ شوي وي – او رسیدونه وساتئ.
- *د بیسمنټ اوبه* – که ستاسو په بیسمنټ یا کور کې اوبه وي نو د دې لیرې کول ترټولو لومړی کار دی. ستاسو ځايي د اوروژني ځانګه یا ځايي قراردادیان کولی شي د اوبو په ایستلو کې مرسته وکړي.
- اوبو ډوب کړي او زیانمن شوي شیان (فرنیچر او دې ته ورته شیان)، ملبه، خټه، یا د وداني توکي یا نظام (لکه شیټراک، الماریاني، د اوبو هیټرې، بټۍ، او داسي نور) *لیرې کول*

د سیلاب د صفایي په اړه مالومات دلته موندلی شئ:

- [د CDC د سیلاب د صفایۍ لارښوونې]
- [د بیسمنټ نه اوبه په خوندي توګه څنګه وباسئ]
- [ستاسو خپل کور یا کاروبار ته راستنېدل او صفایي کول]
- [د سیلاب وهلي کورونو د صفایي لارښووني]

کېدی شي FEMA کولی شي د صفایي په لګښتونو کې مرسته وکړي. تصویرونه اخلئ او رسیدونه ساتئ. د نورو مالوماتو دپاره لپاسه د FEMA برخه وګورئ.

**ملبه لیري کول**
د ختي، ځانګو، فرنیچر، شخصي شیانو، او داسي نورو په ګډون د سیلاب سره اړوند ملبه باید جلا کړل شي او د ونو، ډانګو او ساختمانونو کوم چې اوچتول ستونزمنوي څخه لیرې په 10 فټو کې دننه راټول کړل شي خو په دروازه کې نه. شیان باید په 6 ډولونو کې ووېشل شي – الیکټرونیکي شیان، غتي الي، خطرناک فضله مواد، د بوټو ملبه، کورني فضله مواد، او د وداني ملبه. مهرباني وکړئ خپل د ځايي حکومت او د بیړني حالت ډلو له خوا لارښووني تعقیب کړئ.

*د ښاروالی د چاروکو دپاره مالومات:* ایالت د بیړني حالت د ملبي تنظیمولو اوړلو او د ملبي د څارني قراردادونه لري کوم چې فعاله کړل شوي دي. که د ځايي سرچینو ختمېدو وروستو ستاسو ټولنه داسي څه ته اړتیا لري چې نه وي پوره شوي، نو SEOC ته زنګ ووهئ او مونږ ته خبرتیا راکړئ چې تاسو د ملبي تنظیمولو دپاره څه ته اړتیا لرئ. که یوه ټولنه خپله ملبه اداره کوي، نو د FEMA د تادیې دپاره دا اړینه ده چې د ښاروالی پر یو کامند یا جلا قراردادي د ملبي څارنه وکړي -- داسي کوم تن ولري چې په دې اړه څارنه وکړي چې هر بار له کومه ځایه راځي او چیرته ځي.

## اړیني اړتیاوې او مالي مرستې

### زه پناځای یا لنډمهاله استوګني ته اړتیا لرم

که تاسو د سېلابونو له امله لنډمهاله استوګني ته اړتیا لرئ، نو پناځایونه اوسمهال په لاندي ځایونو کې پرانستل شوي دي:

- بیر
- لېډلو
- شمالي ورمونټ پوهنتون
- رټلنډ

کېدی شي FEMA وکولی شي د لنډمهاله استوګني په لګښتونو کې ستاسو سره مرسته وکړي. [مهرباني وکړئ د لنډمهاله استوګني د اضافي مرستو دپاره لاندي د زیان او ناورین هوساینه [Damage and Disaster Relief] لاندي د FEMA برخه وګورئ.]

### زه د خوارو لګښت ته د لاسرسي یا پوښلو په لړ کې مرستي ته اړتیا لرم

کېدی شي ستاسو په سیمه کې ښارونو، ښارګوټو، او بې ګټي سازمانونو لکه سور سلیب د عامه خوارو ځایونه جوړ کړي وي. په نورو سرچینو کې شامل دي:

- **د خوراک طاق مالوم کړئ:** [www.vtfoodbank.org/agency-locator] وګورئ یا800-585-2265 ته زنګ ووهئ.
- **تولیزه خوراکي مرسته (3 څلورڅنډي) (3 Squares):** غوښتنه [دلته] وکړئ یا 800-479-6151 ته زنګ ووهئ
  - هغه کورنی چې عایدات یې د FPL د 185% څخه ټیټ وي، هغه کورنی چې داسي ماشومان لري چې [VT Earned Income Tax Credit] ترلاسه کوي.
  - د 3 څلورڅنډي ورمونټ [3 Squares Vermont] اوسني ترلاسه کوونکي چې زیانمن شوي وي، مهرباني وکړئ 800-479-6151 ته زنګ ووهئ.
- **کورنی او تر 5 کلنی پورې ماشومان (WIC):**[healthvermont.gov/family/wic] وګورئ یا 802-863-7200 ته زنګ ووهئ
  - تاسو باید ورتیا لرئ:

- که تاسو د ورمونټ اوسېدونکي يئ او اميندواره يئ، 6 مياشتنی ماشوم لرئ يا تاسو تر 12 مياشتني کوم ماشوم له د سيني شيدي ورکړئ
- د عايداتو لاربښوونې پوره کوئ يا په SNAP3 (SquareVT)، Medicaid، TANF (د اړمندو کورنيو دپاره لنډمهاله مرسته) [Temporary Assistance for Needy Families] يا داسي کورنی چي د متکي ماشومانو پروګرام [Dependent Children] لرئ
- جولای د WIC خوراکي کټي چي د سيلاب له کبله له لاسه ورکړل شوي وي خپل د ځايي WIC دفتر سره اړيکه نيولو له لارې بيا پرځای کېدی شي. همدارنګه هغه کورنيو ته د خواړو ورکولو دپاره چمتو [Ready to Feed] فارموله ورکول کېږي چي اوبو (ښاروالي يا څاه) ته محدود لاسرسی لري.

- **له 60 کلنی پورته د ورمونټ اوسېدونکي (په ګاډو کي خواړه):** د مرستي دپاره 800-642-5119 ته زنګ ووهئ
  - په وړ غوښتنه کوونکو کي هغه تن شامل وي چي عمر يې 60 کاله يا زيات وي او د کوم فزيکي، ذهني يا ادراکي حالت له کبله نه شي کولی په لنډمهاله يا تلپاتي توګه خواړه ترلاسه يا چمتو کړي.
- **هغه د ورمونټ اوسېدونکي چي له 60 کلنی کم وي او اوږدمهاله حالات يا معيوبي لري (په ګاډو کي خواړه):** [vcil.org/services/meals-on-wheels/](vcil.org/services/meals-on-wheels/) وګورئ يا 802-224-1823 ته زنګ ووهئ.
  - په وړ غوښتنه کوونکو کي هغه وګړي شامل دي چي له 60 کلنی کم وي او اوږدمهاله حالات يا معيوبي لري
- **د توکو اضافي خوراکي پروګرام:** د ورمونټ خوراکي بانک سره پر 800-214-4648 اړيکه ونيسئ يا [CSFP - Vermont Foodbank (vtfoodbank.org)](vtfoodbank.org) وګورئ
  - وړتيا لرونکي هغه لويان وي چي له 60 کلنی لوړ وي او د بې وزلی د فدرالي کچي پر 130 سلنه يا ټيټ وي.
  - د عمر او عايداتو تصديق په خپله کېږي.

## د زيان او ناورين هوساينه

ورمونټ د ولسمشر بايډن له خوا د ناورين ستره اعلاميه [Major Disaster Declaration] ترلاسه کړې ده، کومه چي د فدرالي مالي زېرمي وړ اشخاصو او ادارو ته وړاندې کوي ترڅو په تصويب شويو کاونټيانو کي د وړ زيانونو په لړ کي مرسته وکړي. لاندې د ناورين د دې اعلاميې له لارې د پروګرامونو په اړه نور مالومات دي، او په دې ناورين کي د رامنځته شويو زيانونو په لړ کي د مرسته کولو دپاره نور فدرالي او ايالتي پروګرامونه هم دي.

## زما کور او شخصي شتمني زيانمن شوي دي، زما دپاره کومې سرچينې موجود دي؟

**د بيمې لاربښوونه**

که تاسو د کور د څښتن د بيمې له لارې بيمه کړې وي او/يا سيلابي بيمه کړې وي، نو ستاسو د مسؤول تن سره اړيکه نيول مهم لومړی قدم دی. د بيمې د ادعاو په پلټلو کي د مرستي کولو دپاره د مالي اداري ځانګړي مالومات خپاره کړي دي. دغه مالومات دلته موندلی شئ.

**د FEMA د ځانګړي مرستي پروګرام**

د ځانګړې مرستي پروګرام کور لرونکو، کرايه دارو، او نورو کسانو (خو کاروبارونو نه) ته چي د ناورين له کبله اغېزمن شوي وي فرصت ورکوي چي د اړينو لګښتونو او جدي اړتياو دپاره تاديه ولټوي کومه چي د بيمې يا د مرستي د نورو بڼو له لارې نه شي پوره کېدلی. په دې اعلاميه کي اوسمهال هغه خلک شامل دي چي په چيټينډن، ليمويل، رټلنډ، واشنګټن، ويندهام، او ويندسر کاونټيانو کي مېشت دي خو د نورو کاونټيانو اوسمهال ارزونه کېږي او کېدی شي وړتيا ولري.

د FEMA راپورونه، ادعاوې، او مالي زېرمې

دا د 211 راپور څخه يوه جلا پروسه ده ځکه چي دا د FEMA سره نېغ په نېغه فايل شوې ادعا ده. ادعا هغه وخت راپور کېږي کله چي ستاسو کاونټي د ناورين يو فدرالي اعلاميه ترلاسه کړي. دا اعلاميه هغه وخت رامنځته کېږي کله چي FEMA د دغه اعلاميې د رامنځته کېدو دپاره پوره مالومات ترلاسه کړي. لاندې ورکړل شوي مالومات يوازې د مراجعې دپاره خورا لنډ لنډيز دی. د ادعا فايل کولو او تفصيلي مالوماتو دپاره www.disasterassistance.gov وګورئ يا 800-621-3362 ته زنګ ووهئ.

د FEMA ډلې په نژدې سيمو کي دروازه په دروازه ګرځي. دوي د زيان ارزونه هم کوي. د FEMA ډلې هر غړی به د FEMA له خوا اجرا شوی پېژندکارت ولري.

کېدی شي د FEMA د مرستي په ډولونو کي شامل وي:

- **د کور مرمت او بدلول:** د کور لرونکو دپاره مالي مرسته ترڅو د ناورين له کبله زيانمن شوی بې بيمې کور مرمت کړي، بدل کړي، يا يې بيا جوړ کړي. دا مرسته د دې دپاره ده چي کور تر خوندي، پاک، او د اوسېدو فعاله حالت ته مرمت کړي.

- که چیرې ستاسو لومړی استوګنځی د FEMA د معاینې څخه وروستو د اوسېدو دپاره ناوړه ټاکل شوی وي.
- استوګنځی اړتیا نه لري چې د بیمې له خوا پوښل شوی وي.

- **د کرایه مرسته:** د لنډمهاله استوګنځي په کرایه اخیستلو دپاره مالي مرسته ترڅو ستاسو په لومړي استوګنځي کې د ناورین له کبله رامنځته شوي مرمتونه روان وي، یا کوم مهال چې تلپاتي استوګنځي په لور لېږد کېږي.
  - د ناورین له کبله کور د اوسېدو وړ نه وي.
  - څوک د کتلو دپاره موافق وي.
  - د چا د استوګنځي اړتیاوې چې د بیمې له خوا نه وي پوښل شوي.
- **د اوسېدنې د لګښت تادیه:** د لنډمهاله اوسېدنې د لګښتونو دپاره د مالي مرستې تادیه.
  - د ناورین له کبله رامنځته شوي غټ زیان په پایله کې لومړی کور ویجاړ شوی وي یا د اوسېدو دپاره وړ نه وي.
  - د کرایه د ترلاسه سرچینو د کمښت له امله د تلو راتلو په معقول واټن کې دننه د لنډمهاله استوګنځي نور کوم عملي اختیارونه ترلاسه نه وي.
- **پاکول او لیرې کول:** د ککړتیاو لیرې کولو او د کور د سطحې هغه برخې چې د سېلابي اوبو له خوا اغېزمنې شوې وي، د جراثیمو څخه پاکولو د خدمتونو دپاره مالي مرسته.
- **د وړلو او زېرمه کولو لګښتونه:** د زیانمن شوي لومړي استوګنځي څخه په لنډمهاله توګه د شخصي شتمنۍ وړلو او زېرمه کولو دپاره مالي مرسته ترڅو مرمتونه روان وي. همدارنګه نوي لومړي استوګنځي ته د اړینو کورني سامانونو وړلو دپاره مرسته وړاندې کېږي.
- **د ناورین سره اړوند طبي او د غاښونو لګښتونه:** www.disasterassistance.gov وګورئ یا 800-621-3362 ته زنګ ووهئ.
- **د سېلاب سره اړوند لګښتونو دپاره نورې مالي زېرمې:** د نورو بې بیمې یا د ټیټې بیمې د ناورین له خوا رامنځته شوي لګښتونو او جدي اړتیاو دپاره وګورئ.

**د شخصي شتمنۍ بل زیان**

که ستاسو شخصي شتمنۍ، موټرو، یا نورو شیانو ته زیان رسېدلی وي نو تصویرونه ترینه واخلئ، نوملړونه یې جوړ کړئ او متبادل رسیدونه وساتئ. کېدی شي د FEMA سره مالي زېرمې موجودې وي. د نورو مالوماتو دپاره لپاسه د FEMA د ځانګړې مرستې برخه وګورئ.

**اوبو او د نکاسۍ نلونو ته رسېدلی زیان**

که ستاسو د اوبو او نکاسۍ نظامونه اغېزمن شوي وي نو ستاسو ځایي وړاندې کوونکی به د دغې خدمت پرځای کولو دپاره کار وکړي. د اوبو او نکاسۍ د ننګونو اداره کولو په اړه نور مالومات لاندې ورکړل شوي دي.

- اوبه وڅوټوئ او د مه څښئ خبرتیاوې
- د سېلابونو څخه وروستو په جراثیمو ککړو او د فضله اوبو نظامونو په اړه لارښوونې
- د سېلاب څخه وروسته: د څښلو د اوبو لارښوونې

## زما استخداموونکې ته د زیان رسېدلو یا د سېلاب د نورو اغېزو له کبله زه بې کاره شوی یم، زه به څه کوم؟

- **د بې کارۍ بیمه** – که تاسو د ناورین له کبله خپل کار له لاسه ورکړی وي – په شمول د دې چې اوس تاسو نور کوم کار یا د کار کولو ځای نه لرئ؛ د کار ځای ته نه شئ رسېدی؛ د کار ځای ته د رسېدلي زیان له امله کار نه شئ کولی؛ یا د ناورین له امله رامنځته شوي ټپ له کبله کار نه شئ کولی – کېدی شي تاسو د بې کارۍ د بیمې د ګټو دپاره وړتیا لرئ. د آنلاین پیل دپاره د چارشنبې ورځ، جولای 19 پر labor.vermont.gov/unemployment-insurance یا د بې کارۍ د بیمې د ادعا د مرستې مرکز ته پر 877-214-3330 زنګ ووهئ.
- **د ناورین د بې کارۍ مرسته [Disaster Unemployment Assistance]** – که تاسو په دودیزه توګه د بې کارۍ د بیمې د ګټو دپاره وړتیا نه لرئ او ستاسو استخداموونکی د ناورین له کبله اغېزمن شوی وي، نو کېدی شي تاسو د ناورین د بې کارۍ د مرستې [ Disaster Unemployment Assistance] (DUA) دپاره وړتیا لرئ. د خوارې کېنو څانګه [Department of Labor] به د جولای 17 په اونۍ کې د DUA اضافي لارښوونې اجرا کوي او وګړي کولی شي د DUA په اړه تازه مالوماتو دپاره نوم لیکنه وکړي پر https://labor.vermont.gov/disaster-unemployment-assistance.

## زه د سېلابونو له کبله رامنځته شویو نورو لګښتونو او خدمتونو په اړه مرستې ته اړتیا لرم، زه به څه کوم؟

- **د ورمونټ د ماشومانو د پاملرنې د مرستې لیکه:** 800-649-2642 ته زنګ ووهئ
- **د انرژۍ مرسته:** 800-775-0516 ته زنګ ووهئ
- **کوم اړین موټر ته رسېدلی زیان:** www.disasterassistance.gov وګورئ یا 800-621-3362 ته زنګ ووهئ
- **د ناورین سره اړوند طبي او د غاښونو لګښتونه:** www.disasterassistance.gov وګورئ یا 800-621-3362 ته زنګ ووهئ.
- **د ناورین سره اړوند د ماشومانو د پاملرنې لګښتونه:** www.disasterassistance.gov وګورئ یا 800-621-3362 ته زنګ ووهئ
- **Medicaid او د نسخې مرسته:** www.info.healthconnect.vermont.gov/find-local-help وګورئ یا 855-899-9600 ته زنګ ووهئ
- **امریکایي سور سلیب:** www.redcross.org/local/me-nh-vt/get-help.htmlI وګورئ یا 855-891-7325 ته زنګ ووهئ

- **د ناورین سره اړوند طبي او د غاښونو لګښتونه:** www.disasterassistance.gov وګورئ یا 800-621-3362 ته زنګ ووهئ.

## زما کاروبار یا بې ګټې اداري اغېزمن شوي دي، ما ته کومې سرچينې ترلاسه دي؟

کاروبار او بې ګټې اداری د FEMA د ځانګړې مرستې پروګرام دپاره وړتیا نه لري خو ځينې مالي سرچینې ترلاسه دي.

- **کاروبار ته رسېدلی فزيکي زيان:** وړ کاروبارونه او بې ګټې اداري تر 2 ميليونه ډالره پور ترلاسه کولی شي. وګورئ disasterloanassistance.sba.gov/ela/s/ یا 800-659-2955 ته زنګ ووهئ.
    - وړتيا: د هر کچې کاروبار یا تر ټولو زيات شخصي بې ګټې اداري چې د ويجاړتيا اعلان شوې سيمه کې وي او د ناورين په اوږدو کې ورته زيان رسېدلی وي
    - سرچيني باید د اصلي شتمنۍ د مرمت یا بدلونې؛ ماشينرۍ؛ الاتو؛ سامان؛ بيچک؛ او د اجارې د پرمختګونو دپاره وکارول شي.
- **د اقتصادي (غيرفزيکي) زيان مرسته:** وړ کوچني کاروبارونه، کوچني زراعتي شرکتونه، او خورا ډېرې شخصي اداري کولی شي د غيرفزيکي زيان دپاره اضافي ملاتړ ترلاسه کړي. disasterloanassistance.sba.gov/ela/s/ وګورئيا 800-659-2955 ته زنګ ووهئ.

## زما فارم اغېزمن شوی دی، ما ته کومې سرچينې ترلاسه دي؟

که چيرې ستاسو فارم ته زيان رسېدلی وي نو د مرستي ترلاسه کولو خورا ډېرې لارې شتون لري په ګډون د:

- **VT Agency د زراعتي فارم سره اړوند مرسته:** د نورو مالوماتو دپاره agr.floodresponse@vermont.gov ته برېښناليک والېږئ یا 802-828-5667 ته زنګ ووهئ.
- **د بزګر بيړنی مالي زېرمې:** د نورو مالوماتو دپاره www.nofavt.org/farmer-emergency-fund وګورئ یا 802-434-4122 ته زنګ ووهئ.
- **بيړنی پور:** د نورو مالوماتو دپاره www.vtfarmfund.org/emergency-loan وګورئ یا 802-560-3099 ته زنګ ووهئ.
    - وړ غوښتنه کوونکي باید د ورمونټ بزګران وي یا خواړه توليدوونکي وي چا ته چې د ناڅاپي قدرتي ناورين له کبله ويجاړوونکی زيان رسېدلی وي چې د دوي فارم یا د بزګرۍ دنده په خطر کې اچوي او وداني؛ څناور؛ الات، شينکورونه؛ او د ګيا پټي پوښي.
- **USDA د ناورین مرسته:** https://www.fsa.usda.gov/programs-and-services/disaster-assistance-program/index وګورئ یا 855-794-3676 ته زنګ ووهئ. USDA څناور؛ د کرنيزې محکې زيان؛ مالي زيان؛ او د فصلونو زيان پوښي.

## زه استخداموونکی يم او د سېلابونو له کبله کارمندان خوشي کولو ته اړتيا لرم؛ زه څنګه داډ ترلاسه کړم چې دوي هغه د بې کارۍ ګټې ترلاسه کړي کومو ته چې اړتيا لري؟

آيا تاسو دې ته اړتيا لرئ چې په لنډمهاله توګه خپل کاروبار وتړئ او کار کوونکي خوشي کړئ؟ خپله کاري ډله د بې کارۍ دپاره چمتو کولو لاره دا ده:

- استخداموونکي دې ته اړتيا نه لري چې د خواري کښنو څانګې سره اړيکه ونيسي کله چې کارمندان خوشي کوي.
- کارمندانو ته سلا ورکړئ چې د خواري کښنو د بې کارۍ د بيمې د ادعاو مرکز سره پر 877-214-3330 اړيکه ونيسي (د دوشنبې د ورځې څخه تر جمعې د سهار له 8:30 څخه تر د ماښام 4:30) سربېره پر دې، که وګړي نه شي کولی دغه څانګې ته د ټليفون له لارې لاسرسی ولري، دوی کولی شي د بې کارۍ د بيمې د هغه ګټو دپاره ځان ثبت کړي کوم چې پيلېږي د چارشنبې په ورځ، جولای 19، آنلاين پر https://labor.vermont.gov.
- د هغه کارمندانو دپاره د کار پلټنې ته اړتيا نشته څوک چې په لنډمهاله توګه د 10 اونيو يا لږ وخت دپاره خوشي کړل شوي وي. د ګټو دپاره ثبت کېدونکي وګړي دي ته اړتيا لري چې کار ته د بيرته ستنېدو اټکلي نېټه وړاندې کړي ترڅو د کار د پلټنې د اړتيا معافيت ترلاسه کړي.

# څنګه به مرسته کوئ

---

## بسپنه وکړئ

په دې پړاو کې مونږ د نغدو پيسو په بڼه کې د بسپنو سپارښتنه کوو. د داسې کولو دپاره Vermont Community Foundation [د ورمونټ ټولنيز بنسټ] یا Vermont Disaster Recovery Fund [د ورمونټ د ناورين څخه د بيابادونې مالي زېرمه] وګورئ.

هغه خلکو دپاره چې خواړه یا شخصي شيان بسپنه کولو ته لېوالتيا لري، مونږ د ځايي چارواکو او بې ګټې ادارو سره د اړيکي ټينګولو او بوازې په هغه صورت کې د بسپنه کولو سپارښتنه کوو که چيرې دوی د اړتيا څرګندونه کوي یا يې خېروي.

د بسپنو په اړه نور مالومات او اړيکي د Buildings & General Services flood page یا 802-828-1525 ته زنګ وهلو او donations@vermont.gov ته برېښناليک لېږلو له لارې ترلاسه کېدی شي.

**د کاروبار وړاندې کولو ملاتړ:** مهرباني وکړئ Monica.Hutt@vermont.gov او Victoria.biondolillo@vermont.gov ته برېښناليک ولېږئ.

## رضاکار

رضاکارانو ته اړتیا ده. د [www.vermont.gov/volunteer](http://www.vermont.gov/volunteer) سره راجستر شئ ترڅو پر SerVermont کاري ډله تاسو په ګرد ایالت کې په ټولنه کې په میشنونو کې ځای کړي.

د رضاکارۍ په نورو فرصتونو کې شامل دي:

- **د ورمونټ ټولنيز بنسټ [Vermont Community Foundation]:** پر 802-388-3355 زنګ ووهئ
- **د VT د سېلابونو غبرګون او د بیاابادوني مالي زېرمې [VT Flood Response and Recovery Fund]:** [VT Flood Response (vermontcf.org)](https://vermontcf.org) وګورئ
- **متحده لاره [United Way]** (ځايي متحده لارې شتون لري چې د ایالت د هرې سیمې خدمت کوي): [United Ways in Vermont | United Way Worldwide](https://www.unitedway.org) وګورئ
- **امریکایي سور سلیب د شمالي نیو انګلینډ سیمه:** 800-464-6692 ته زنګ ووهئ یا [American Red Cross | Help Those Affected by Disasters](https://www.redcross.org) وګورئ
- **د ورمونټ خوراکي بانک:** 800-585-2265 ته زنګ ووهئ؛ یا [NoKidHungry.org](https://www.nokidhungry.org) وګورئ
- **د ورمونټ د فارم مالي زېرمې:** [(Center for an Agricultural Economy (hardwickagriculture.org](https://hardwickagriculture.org)